Vol. 7 No.1 2024
ISSN Online: 2709-7625
ISSN Print: 2709-7615

# د پښتو په جدیده شاعرۍ کښې فلسفیانه شعور

## Philosophical Sense in Modern Pashto Poetry

**Dr. Muhammad Haroon**[1]
**Muhammad Jawad**[2]
**Dr. Mazhar Ahmad**[3]

**ABSTRACT:**
*This research paper studies the classical four elements, Berkeley's variability, representative realism, John Locke's empiricism, existential philosophy, determinism, ethics, Socrates' philosophy of all goodness, time and space. In addition, it discusses philosophical thoughts of Socrates, Plato, Empedocles, Avicenna, Kant, Schopenhauer, Goethe and Sartre.*

**Key Words:** *Philosophy, Classical Elements, Empiricism, Existentialism, Variability.*

فلسفه د انساني ژوند او کائنات پټ رازونه او حقیقتونه معلوموي- او ځان د معروضاتو او څیزونو حقیقت ته رسوي- ددې علم شروع د یونان نه شوې ده- سقراط ، افلاطون او ارسطو په تاریخ کښې مشهور فلسفیان تېر شوي دي- دا د حکمت په نامه هم یاد شوے دے- ددې علم په څانګو کښې علمِ نفسیات ، علمِ جمالیات، منطق او اخلاقیات غوندې علمونه شمېرلے شي-

په پښتو شاعرۍ د رومانیت او تصوف نه علاوه د فلسفیانه افکارو اثرات هم پرېوتي دي- د خوشحال بابا ، حمزه شنواري ، غني خان او هاشم بابر په شاعرۍ کښې په ډېره لویه پېمانه ددغه علم پلوشې په نظر راځي-

مونږ به په دې وړه شان مقاله کښې دغه فلسفیانه افکار او خیالات رابرڅېره کړو چې پته اولګي چې پښتو شاعري ددې قیمتي ملغلرو نه هم محرومه نۀ ده پاتې شوې- او په دې فلسفیانه موضوع کښې هم بوقلموني، تنوع او رنګیني لري- دمختلفو شاعرانو په کلامونو کښې د سقراط، افلاطون ، کروچے، سینټ اګستائن، جان لاک، بارکلے ، شوپنهار، ګوئټے، بېکن، هابز، بوعلي سینا او اقبال د فلسفې رنګونه او عکسونه برېښي-

راځئ چې د مشت نمونه خروارېه مصداق ترې یو څو رابرڅېره کړو-

۱- د عناصر اربعه فلسفه:

---

[1] *Associate Professor, Govt Degree College Katlang (Mardan)*
[2] *Lecturer Department of Pashto, Govt Post Graduate College Mardan*
[3] *Assistant Professor, Department Of Pashto, University of Malakand*

ISSN Online: 2709-7625
ISSN Print: 2709-7615

د سقراط نه وړاندې اهم پېډوکلس د مادي څلور عناصر او توکي (اور، اوبۀ ، هوا او خاوره) د کائنات د پېداوښت او انسان د تخليق اجزاء ګڼلي وو۔

دغه فلسفه د پښتو صوفي شاعر طاهر کلاچوي داسې بيانوي۔

ے اور، اوبۀ، هوا او خاورو نه دلبره
يو دا ستا غوندې نازک اندام ترې جوړ شي[1]

۲۔ د تغير پذيري (Variability) فلسفه:

بارکلے نومې فلسفي وئيلي دي چې د حالاتو او د کتونکي په موضوعي حالت منحصر څنې رنګونه بدل بدل په نظر راځي۔ يو اځي رنګ، بوي نۀ بلکه وضع قطع، شکل و صورت او سائز کښې هم څنې څيزونه د مختلفو اړخونو نه مختلف په نظر راځي۔ دلرې نه هر يو څيز وړوکے په نظر راځي۔ دې ته د تغير پذيري فلسفه وئيلے شي۔

حمزه شنواري د بارکلے سره په دې فلسفيانه خيال کښې همنوا ښکاري۔

حمزه بابا وائي:

ے له کم نظرو څه ګيله ده پکار؟
ستوري د لرې نه واړۀ ښکاري[2]

ے لوئے يم په معنٰی ولې ستا زړۀ ته نزدې نۀ يم
لوئے ښکاري د لرې نه واړۀ په ائينه کښې[3]

۳۔ د تمثيلي حقيقت (Representative Realism) فلسفه:

جان لاک د تمثيلي حقيقت خاص نمائنده دے۔ ددې فلسفې په رڼا کښې د هغه نظريه ده چې رنګ، خوشبو او مزه (خوند، لُطف) وغېره د څيزونو خپل صفتونه نۀ دي بلکه دا صرف تصورات دي۔ چې زمونږ په ذهن کښې موجود دي۔ د مثال په توګه د يرقان او زيړي مريض ته هر يو څيز زيړ ښکاري۔

د پښتو مشهور شاعر سيد رسول رسا صاحب د جان لاک ددې نظريې نه متاثره دے۔ لکه چې وائي۔

Vol. 7 No.1 2024
ISSN Online: 2709-7625
ISSN Print: 2709-7615

ـه ستا په سترګو باندې زېړے خوړدے نرګسه
ځکه شين چمن ته وائے واړه زېړ دے[4]

۴- د تجربيت (Empiricism)فلسفه:-

دا د علم د حاصلولو په باب کښې يوه نظريه ده- ددې په رڼا کښې ټول کائنات صرف "مجرد تصورات" دي چې په يوه عملي تجربه کښې منتقل شي نو هله ترې مفهوم او مطلب واخستے شي او په فهم او تصور کښې په اسانه راشي لکه څنګه چې حُسن په ښکلي منظرونو او هېئتونو کښې، صداقت په رښتوني انسان کښې او شجاعت په مېړني او انصاف په يو عادل بنيادم کښې راڅرګندېږي-

جان لاک وئيلي دي چې د تجربې نه بغير د تصور وجود ناشونے دے او د پيدا ونبت په وخت د انسان ذهن د ساده سليټ يا ساده کاغذ په شان صفا وي چې په هغې باندې تجربې خپل نقشونه پرېږدي- او د دۀ په حافظه کښې محفوظ کېږي- د هابز ، بارکلے ، هيوم او جان لاک نظريات په دغه بنياد منحصر برېښي-

د حمزه بابا د جان لاک ددغه فلسفې د تاثر لاندې شعرونه وګورئ-

ـه جوړ مسطر زما د ذهن پرې معمور شو
چې خپل ځان ته فکر وکړم تش بياض يم[5]

ـه زرۀ مې شو بې رنګ د ائينې په څېر
ځکه د هر رنګ ترجماني کوي[6]

د تجربيت د فلسفې روښانه مثال ئې دا شعر دے-

ـه ښه وي هغه ګټه، چې حاصل شي له تاوانه پس
ماته شوې ښکاره خپلې خامۍ له اِبتلا نه پس[7]

۵- د جبرواختيار يا تدبير او تقدير فلسفه:

Vol. 7 No.1 2024
ISSN Online: 2709-7625
ISSN Print: 2709-7615

ابن رشد ، محي الدين ابن عربي او مولائے روم غوندي صوفيانو او فلسفيانو په دې فلسفه په خلاص متې خپل تاثرات وړاندې کړي دي- خو زمونږ د اهلِ سنت والجماعت دا عقيده ده چې انسان نۀ مختار کُل دے او نۀ مجبورِ محض دے- معروف پښتو شاعر افضل رضا صاحب دغه فلسفه داسې بيانوي-

ے له نيمګړي اختياره توبه ګار شم
چې تدبير مې د تقدير وړاندې مجبور شي

او حمزه شنواري صاحب خپله معتدله نظريه داسې څرګندوي-

ے له يوې ډډې خپلواک راته ځان ښکاري
چې له بلې ډډې وګورم بې واک يم[8]

۶- د سريت ، روحانيت (Mysticism) فلسفه:-

د سريت نه مراد کشف او الهام دے - حسي تجربات او عقل و تدبر چې انسان بغير څه د واسطې نه د حقيقتونو د انکشاف او برخېرني نه فيض ياب او بهره مند کوي- قرآن ددې د پاره د "قلب" اصطلاح راوړې ده- قلب يو داسې باطني قوت دے چې د ظاهري ذريعو نه بغير سمدست انسان د عرفان سره غاړه غټې کړي-

عقل مونږ ته صرف د يو څيزپه حقله خبر راکوي- او عشق، وجدان، فراست او بصيرت مونږ د نظر خاوندان جوړوي- د غيبي رازونو، مابعد الطبيعاتي حقيقتونو په پېژندګلو کښې عقل د وهم او ګمان ښکارکېږي او د شک کندې ته پرېوځي او وجدان د معرفت او حقيقت د انکشاف د خوشحالو سره اشنا کېږي، مولائے روم، عبد الرحمان جامي، ابن عربي، امام غزالي او کانټ ټول په يوه خولۀ دي چې عقل د کائناتو د رازونو احاطه نۀ شي کولے، او حقيقتِ مطلقه Absolute reality ته نۀ شي رسيدے-قلب او وجدان که د عقل رهنما او لار ښود جوړ کړے شي نو د غيب په پردو کښې به ورته پټ حقيقتونه څرګند شي-

افلاطون، ګوئټے ، کروچے او علامه اقبال هم وجدان ته په عقل ترجيح او غوره والے ورکوي- حمزه بابا هم ددغه وجدانيت د ډلې سره همنوا دے او وائي:

ے کار د وجدان دے حقيقي پوهه
حمزه منم چې منطق دليل ښه دے[9]

Vol. 7 No.1 2024
ISSN Online: 2709-7625
ISSN Print: 2709-7615

۷- د غم فلسفه:-

د فرانس مشهور فلسفي سارتر هم د وجوديت د نظريې د اثر لاندې دنياوي ژوند ټول عذاب، مصيبت، غمونه او تکليفونه ګڼي او د خاشحالۍ وجود بېخي نۀ مني-

ګوتم بدھ د دنيا د غمونو نه د خلاصون لاره ګيان، دهيان او نروان وګڼلو، او شوپنهار د خپل ژوند او د ماحول د ترخو تجربو په وجه د قنوطيت (مايوسۍ) ښکار شو- هغه ته دانړۍ فقط د ستونځو ، کړان او عذاب ځائې ښکاري ځکه ئې د کرکې او نفرت وړ ګڼي- هغه خواهش او تمنا ښۀ څيز نه حسابوي ځکه چې دا بنيادم ته سختې او تکليفونه وردوڅاروي- د حمزه بابا په فکر هم د شوپنهار د فلسفې اثرات په ځلانده ډول برېښي- او دائې غوره نمونې دي-

ـــ احساس د غم مې نۀ ؤ چې طالب د خوښۍ نۀ وم
اوس ږدم چې هر قدم راته يو غم په مخه راشي[10]

ـــ خوشحالي نشته خو شپه ورځ غمونه غم زېږوي
رڼا د نمر نشته خو شپې دي چې تور تم زېږوي[11]

۸- د تکميل او کمال (Perfectionism) فلسفه:-

د بوعلي سينا وينا ده چې د کائنات هر يو څيز نيمګړے دے او د کمال حاصلولو په تکل کښې بوخت دے- دا حقيقت دے چې قطره او څاڅکے د خپل تکميل په زيار کښې ځان سمندر ته، زره نمر ته، نقطه دائرې ته، بخرے او سپرغۍ لمبې او غر غنډې ته رسوي- او د ټولو ښائست او ښکلا په تکميل او کمال بشپړه شي- او انساني روح هم خپل کمال او تکميل د حقيقي جانان (ائيډيل حُسن) په عرفان او وصال حسابوي-

د بوعلي سينا نه علاوه سينټ اګستائن او والف هم دغه فلسفه خپله کړې ده- حمزه شنواري ددغه فلسفې په تاثر کښې عشق او حُسن دواړه هله بشپړ او ښکلي ګڼي چې د کمال نقطۀ عروج ته اورسي- دغه نقطۀ نظر ئې وځېروۀ-

ـــ کمے د عشق هله پوره شي چې ستم وزغمي
کمے د حُسن پوره کېږي ديندارہ سره[12]

ے تکمیل د محبت خو په دې کېږي چې رسوا شي
ناقص لا هغه دُر وي چې شي پاتې په صدف کښې[13]

روماني غزلګو شاعر رحمت الله درد هم دغه فلسفه د خپلې شاعرۍ برخه ګرځولې ده۔ لکه چې وائي۔

ے چې تکميل د کائنات کوي ښائست دے
چې تکميل کوي د حُسن محبت دے[14]

۹- د اخلاقيات (Ethics) فلسفه:

اخلاقي قدرونه د اخلاقياتو هغه نۀ بدليدونکي قانونونه دي چې په هغې کښې يو رنګ هر اړخيزوالے او بشپړ تيا ده۔ او دهغې بنيادونه په مابعد الطبيعات منحصر دي۔ نېک عمل، تقوٰی، د زړۀ سکون او اطمينان ټول په اخلاقي قدرونو کښې راځي۔ د انساني نفس متلون مزاجي (بدليدل رابدليدل) غټه کمزوري ده۔ د اخلاقي زوال سره ئې مخ کوي دَ نفس د کمال نخښه ددۀ پختګي ، استحکام او استقامت دے۔

د ايمان مضبوطتيا ، په امتحانونو صبر کول، مجاهده کول انسان ددنيا د هر طاقت مقابلې ته تيارولے شي۔ ځنې خلقو اخلاقي اقدار د جغرافيائي حدونو، زمانو او عمراني اقدارو سره اوتړل خو دا په حقيقت کښې دداسې حدونو او د زمان او مکان د قبدنه ازاد د ټول انسانيت د پاره په هره زمانه کښې د دواړو جهانونو د کاميابۍ او سعادت ذريعه ګرځي۔

کانټ نومې فلسفي هم دا حقيقت ومنلو او اخلاقيات ئې د مابعدالطبيعات سره وتړل۔ حمزه شنواري هم په دغه نقطه نظر سره اخلاقيات، اخلاقي قدرونه او اصول کوټلي او د نۀ بدلېدلو جوګه ګڼي او په دې استقامت ساتل د انسان د کمال دليل حسابوي۔

ے د اصول په نقطه ښخ د زړۀ قدم کړۀ
که په برخه دې ګردش لکه پر کار شي[15]

ے ښخ د زړۀ قدم مې ستا د مينې په نقطۀ وو تل
څه شي که پرکار غوندې چاپېره ګرځېدلے يم[16]

ISSN Online: 2709-7625
ISSN Print: 2709-7615
Vol. 7 No.1 2024

۱۰- د ژوند او مرګ فلسفه:

دانسان د جسم او روح د ملګرتیا له کبله د دهٔ ژوند او بیا د دواړو ترمېنځه بیلتون او جدایي په مرګ حسابېږي- خو چې کله د بدن نه روح جدا شي نو صرف په خاورین کالبوت باندي فنا راشي- روح ددغه اثر او قېد نه ازاد یو داسې جوهر دے چې د عالم امر، عالم مثال، عالم خلق او عالم برزخ غوندي ټولو عالمونو نه به تېرېږي، سفر به ئې جاري وي خو نهٔ به فنا کېږي - ځکه چې انساني روح د ازلي حُسن جلوه ده- په دې انساني انا کښې د مطلق حُسن (انائے اکبر) د نُور او تجلیاتو پړق او عکس موجود دے-

او انسان خو ځکه په کائنات کښې اشرف المخلوقات او د الله پاک خلیفه ګرځېدلے دے چې دے د کامل ذات د ټولو صفاتو کامل مظهر دے-

علامه اقبال هم وائي چې انسان د مارغهٔ په شان د دنیا (د یوې اونې) نه د بقا (بلې اونې) ته وزري او ځانګونه اووهي او والوزي، ددواړو ترمېنځه الوت د "عالم برزخ" (دقبر ژوند) دے- د پښتو لېونے فلسفي شاعر غني خان د دغه راز نه داسې پرده پورته کړې ده-

ے نهٔ منم نهٔ منم مرګ انجام د هستۍ نهٔ دے
خلاصېدل شراب په جام کښې اختتام د مستۍ نهٔ دے[17]

ے مرګ او زندګي یوه ده، غم او خوشحالي یوه
ژوند چې چرته نهٔ وي، مرګے چا هلته لیدلے دے[18]

۱۱- د سقراط د اګاتهوس، خیر کُلّي (All Goodness) فلسفه:

د سقراط په نقطهٔ نظر حُسن همه خیر دے، ښکلا ده، د بدرنګۍ ګنجائش پکښې نشته، په مادیت او کثافت کښې په ظاهري بصارت سره د قبح چې کوم احساس کېږي نو دا خو د نظر خامي او تفاوت دے ګني هر څیز او هر معروض د کُلي حُسن (بسیط حُسن) مظهر دے او په هغې کښې ئې د حُسن جلوه او پړق په نظر راځي- په معنویت کښې ټول جمال جمال دے- دغه فلسفیانه نقطه نظر د حمزه بابا په کلام کښې وځېروئ-

ے په خپل حُسن کښې محوه ، بدرنګي محسوسوي
قدرت خو بس جمیل دے او جمال پیدا کوي[19]

Vol. 7 No.1 2024

ISSN Online: 2709-7625

ISSN Print: 2709-7615

ـ په نظر نظر کښې فرق دے نور څه نۀ دي
په دنيا کښې هر يو شے لري زيبا مخ[20]

او هم ددغه فلسفيانه فکر په تناظر کښې غني خان وائي۔

ـ د لکها زره کتابه ، مونږ دا يو ټکے زده کړے
که تک تور وي هم ښائسته شي يار چې ستا د زنې خال شي[21]

ـ هره پانه کښې ژوند لازواله ژوند، هر ګلاب کښې درياب د سرور دے
بدلېدل د ژوند د دوام ده لار ، ګوره هر غوټۍ کوهِ طور دے[22]

۱۲۔ د زمان او مکان فلسفه (Time and Space)

د پرله پسې بدلون او قسما قسم پېښو او حادثو د پېښېدو له کبله دوخت احساس او ادراک کېږي۔لکه نمر چې راوخېژي سحر شي، بيا غرمه او اخر ماښام شي۔

انساني روح او انا چې څنګه زمان او وخت محسوسوي نو د فلسفيانو په اصطلاح کښې دې ته معروضي زمان وائي۔ او د مطلقي انا (الله تعالٰی) د خپل ذات د مسلسل بصيرت او د موجودګۍ پر له پسي ادراک په موضوعي زمان بللے شي ، څکه خو په حديث شريف کښې راغلي دي۔ "لاتسبو الدهر---الخ"۔ ترجمه: زماني او دهر ته بد مۀ وايئ۔ خدائے پاک په خپله زمانه ده۔ مشهور فلسفيانو کانټ ، وائټ هيډ او علامه اقبال د زمان او مکان د فلسفې په باب کښې خپل تاثرات وړاندې کړي دي۔

د پښتو د غزل بابا امير حمزه شنواري د زمان په حقله خپل فلسفيانه نقطه نظر داسې څرګندوي۔

ـ وخت نۀ چرته ځي او نۀ راځي نۀ ئې وجود شته
دا دتغير څه ناتارونه په نړۍ دي[23]

ـ ورک چې شُو نور هر څه پاتې زه شومه
اوس راته زمان يوه لمحه ښکاري[24]

Vol. 7 No.1 2024
ISSN Online: 2709-7625
ISSN Print: 2709-7615

ـ ادراک چې دا د وخت د تېرېدو زمونږ سره دے
احساس پرله پسې د خپل وجود او د خپل ځان دے

ـ زمان چې ورته وائي دا په اصل کښې يو آن دے
مکان چې ورته وائي دا ظهور ددې زمان دے[25]

د حمزه بابا په خيال فلسفيان زمان اضافي ګڼي او مکان حقيقي حسابوي۔ خو دا صحيح نۀ دہ۔ مکان هم په دوه قسمه دے۔ يو معروضي دے چې د هغې نه څۀ ځائې او مقام مراد وي او بل موضوعي مکان دے چې مطلق ذات ته دا بصيرت حاصل دے چې هغه په خپل ذات کښې لامحدود تخليقي امکانات لري چې هغې ته مونږ نومونه(اسماء) او صفات وايُو او هم دا صفات چې د يو بل سره جمع شي نو د مکان صورت وګرځي۔ حمزه شنواري د مکان فلسفه داسې بيانوي۔

ـ احساس چې د خپل ځان دے زمانه به ورته وايُو
مکان ؟ د صفتونو خزانه به ورته وايُو[26]

ـ تا ته د هستۍ ښکاري مکان په ائينه کښې
دا فقط امکان دے د زمان په ائينه کښې[27]

حوالي

[1] طاهر کلاچوي، د مينې غېږ، مطبع منظور عام پرېس پېښور، ۱۹۸۰ء، مخ ۱۹۳
[2] حمزه شينواري ديوان، يونيورسټي بک ايجنسي پېښور اپريل ۲۰۱۳، مخ ۴۰۵
[3] هم دغه اثر مخ ۵۲۲
[4] خټک ډاکټر اقبال نسيم "دُرداني" حرم پرنټرز محله جنګي پېښور ۲۰۰۰ء مخ ۱۰۹
[5] حمزه شنواري ديوان مخ ۱۷۸
[6] هم دغه اثر مخ ۴۶۴
[7] هم دغه اثر مخ ۱۲۷
[8] هم دغه اثر مخ ۱۷۸

Vol. 7 No.1 2024
ISSN Online: 2709-7625
ISSN Print: 2709-7615

[9] هم دغه اثر مخ ۵۷۹
[10] هم دغه اثر مخ ۴۳۲
[11] هم دغه اثر مخ ۴۶۱
[12] هم دغه اثر مخ ۲۷۰
[13] هم دغه اثر مخ ۵۰۶
[14] درد رحمت الله ، د درد کلیات منګل کتاب کور محله جنګي پېښور مارچ ۲۰۱۹ مخ ۱۴۱
[15] حمزه شنواري دیوان مخ ۴۳۶
[16] هم دغه اثر مخ
[17] حسرت محمد زبیر ، ترتیب و تدوین، لټون (د غني کلیات) یونیورسټي بک ایجنسي خیبر بازار پېښور اول چاپ ستمبر 2005 مخ ۷۰۰
[18] هم دغه اثر مخ ۶۷۸
[19] حمزه شنواري دیوان مخ ۳۴۱
[20] هم دغه اثر مخ ۴۶۲
[21] لټون (د غني کلیات) مخ ۶۲۲
[22] هم دغه اثر مخ ۶۱۴
[23] حمزه شنواري دیوان مخ ۳۸۵
[24] هم دغه اثر مخ ۴۰۷
[25] هم دغه اثر مخ ۵۷۳
[26] هم دغه اثر مخ ۲۲۶
[27] هم دغه اثر مخ ۵۲۳